د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱۳
نېټه: ۱۴۴۳/۸/۲۱ هـ ق

عاجل ☐ دی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۳/۷/۲۶ هق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله او د ستري محکمې د رئیس محترم شیخ صاحب او ورسره مل پلاوي په ګډون مجلس دائر شوی وو چي په هغه کي نهمه موضوع، حقوقو او څارنوالی ته د موضوع د تګ او د فیصلې د تطبیق په باره کي وه چي په اړه یې داسي فیصله شوي ده:

((د حقوقو او څارنوالۍ موضوع خو علماء کرامو ته استول سوې ده په دغه باره کي فیصله به د علماء کرامو د نظرونو تر راتګ او کتلو وروسته وکړو، البته د فیصلې تر وخته که عارض مستقیماً محکمې ته راسي یا د حقوقو او څارنوالۍ د لاري راسي محکمه به یې موضوع اخلي خو د دوی پر تحقیق به خپله فیصله نه بناء کوي.))

د پورته ذکر شوي مجلس د نهمې موضوع په اړه فیصله د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې ترسره شي.

په درنښت

۲۱ / ۸ / ۱۴۴۳ هـ ق

مفتي عبدالرشید "سعید"
د ستري محکمې
د دارالانشاء رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
ټیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af